# د افغانستان دقضیو مدیریتي سیستم

د افغانستان دقضیو مدیریتي سیستم یو برېښنایي معلوماتي بانک دی چې د جزایي، مدني او سوادګریزو قضیوجریان له پیل څخه د محاکمو د قطعي او وروستۍ پرېکړو تر پلي کېدو پورې اړوند معلومات پکې ثبتیږي.



## د قضیو د مدیریت سیستم د پروګرام موخې (اهداف)

- د روڼوالي(شفافیت) او ځواب ویني را منځته کول.
- د قضیو د محرمو او حساسو معلوماتو سمبالښت او ساتنه.
- د څېړنیزو(تحقیقاتي )، حقوقي او قضايي بنسټونو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول.
- د ټول افغانستان د جزايي، مدني او سوداګریزو قضیو معلوماتو ته د حقوقو د برخي د کارکوونکو آسانه لاسرسی.
- د قضیو د څېړني او ارزوني په پړاو کي د قانون د سم او پر وخت پلي کېدو وده.
- د درغلی د مخنیوي او د کشف په برخو کي مرسته.

## د قضیو د مدیریت سیستم معلوماتي بانک ته لاسرسی

ملي او نړیوال بنسټونه کولای شي د قضایاوو د مدیریت سیستم معلوماتي بانک ته لاندي شرایطو ته په پام سره لاسرسی ولري:

- بنسټونه کولای شي د یو ځانګړي وزارت دقضایاوو شمېره ییز معلومات د هغه وزارت د قضیو د مدیریتي سیستم دفتر څخه او یا په نظارتي پلاوي کی د هغه وزارت له استازي څخه ترلاسه کړي.
- بنسټونه کولای شي د ټولو عدلي او قضایي ارګانونو د قضایاوو په هکله د یوې ټولیزې (عمومی) شمېرې د ترلاسه کولو په موخه د نظارتي پلاوي یوه استازي ته په لیکلي توګه غوښتنلیک وسپاري. وړاندي شوی غوښتنلیک به د نظارتي پلاوي په ناسته کی له څېړلو وروسته د ټول پلاوي له خوا تصویبیږي.

دلاډېرو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره په عدلي اوقضایي ارګانونو کي دقضایاوو دمدیریت سیستم دفترونو ته مراجعه وکړئ.